# کاسا - ۱۰۰۰

د کاسا - ۱۰۰۰ میاشتنۍ دویمه ګڼه، جون ۲۰۲۱


## د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې د ساختماني چارو کاري پرمختګ

په افغانستان کې د کاسا-۱۰۰۰ پروژه د افغانستان او تاجکستان له ګډې پولې (شیرخان بندر) نه پیل او تر تورخم پورې دوام مومي. په افغانستان کې دغه پروژه په دریو لاټونو (LoTs) یا برخو باندې وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې کندز، بغلان، په دویمه برخه کې بغلان، پنجشیر او کاپیسا او په دریمه برخه کې کابل، لغمان او ننګرهار ولایتونه شامل دي. تردې دمه (د ۲۰۲۱ د جون تر پایه) د پروژې د تطبیق چارې نږدې ۷۲ سلنه پرمخ تللې دي او پاتې کار یې هم په بریالۍ توګه پرمخ روان دی.

**په لومړۍ برخه** کې کندز او بغلان ولایتونه شامل دي. دغه برخه د کندز ولایت د شیرخان بندر څخه پیل او د بغلان ولایت تر ده صلاح ولسوالۍ پورې دوام مومي چې، مجموعي اوږدوالی یې ۱۹۷,۵ کیلومترو ته رسیږي. تاکل شوې په نوموړې برخه کې به د برښنا ۵٦٤ پایې جوړې شي. تردې دمه ددغې برخې ۸۰ سلنه د تطبیق چارې پرمخ تللې او پاتې کار یې هم په بریالۍ توګه پرمخ روان دی.

**په دویمه برخه** کې بغلان، پنجشیر او کاپیسا ولایتونه شامل دي. دغه برخه د کندز ولایت د بغلان ولایت د ده صلاح ولسوالۍ څخه پیل او د کاپیسا ولایت تر تګاب ولسوالۍ پورې دوام مومي چې، مجموعي اوږدوالی یې ۱۸۹،۳۳ کیلومترو ته رسیږي. تاکل شوې په دغه برخه کې به د برښنا ۵۸۸ ټاورونه (پایې) جوړ شي. تردې دمه ددغې برخې ٦٤ سلنه د تطبیق چارې پرمخ تللې او پاتې کار یې هم په بریالۍ توګه پرمخ روان دی. د دریم لاټ په هکله د معلوماتو په اړه ددې پاڼې د پای برخه وګورئ...

## د ښاري برښنا غځولو پروژې د کار جریان

د لغمان ولایت قرغیو ولسوالۍ فضل محمد کلي کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ترسیورې لاندې د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې د کلیو ملاتړ پروګرام (CASA-CSP) له لوري د ښاري برښنا غځولو پروژې کار ٦۲ سلنه پرمختګ لرې.



فضل محمد کلی چې د لغمان ولایت د مهترلام په څو کیلومترۍ قرغیو ولسوالۍ کې موقعیت لري د هغو کلیو له ډلې دی چې د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې په مسیر کې واقع شوی او اوسیدونکی یې د خپلې خوښې پروژه د ښاري برښنا د غځولو پروژه انتخاب کړې.

د فضل محمد د کلیوالي پرمختیایی شورا پروژه د ۲۰ کیلو ولټ ښاري برښنا د غځولو پروژه ده چې د ٦۸ کورنیو ٤۰۸ تنه اوسیدونکی به د برښنا له نعمت څخه برخمن شي. دغه پروژه چې د نږدې ۱،٦۷۹،۳۷۹ افغانیو په ارزښت تر کار لاندې ده، له بشپړیدو سره سم به د برښنا په برخه کې کلیوالو ته د لازمو آسانتیاوو په برابرولو کې ډیره مرسته وکړي.

د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې د کلیو ملاتړ پروګرام (CASA-CSP) د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې د بریالۍ پلې کیدو او ساتنې او څارنې په موخه ددې پروژې په مسیر (د برښنا مزی دواړو خواو دوه کیلومترۍ) کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له لارې پلې کیږي. د CASA-CSP برنامه د افغانستان بیارغونې وجهی صندوق (ARTF) له لورې تمویلیږي.

... **په دریمه برخه** کې کابل، لغمان او ننګرهار ولایتونه شامل دي. دغه برخه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ څخه پیل او تر تورخم پورې دوام مومي چې، مجموعي اوږدوالی یې ۱۹۰ کیلومترو ته رسیږي. تاکل شوې په دغه برخه کې به د برښنا ٤۸۵ ټاورونه (پایې) جوړ شي. تردې دمه ددې برخې ٦۹ سلنه د تطبیق چارې پرمخ تللې او پاتې کار یې هم په بریالۍ توګه پر مخ روان دی.



## په ننګرهار کې د یوه محافظوي دیوال د جوړولو چارې رواني دي

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت تر چتر لاندې د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې د کلیو ملاتړ پروګرام (CASA-CSP) له لوری د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ اړوند د شیرګړ کلی پراختیایی شورا لخوا د ۷۱۰ مترو په اوږدوالی د یوه محافظوی د ېوال د جوړولو چارې روانې دي.

د دې محافظوی د ېوال د جوړېدو په ترڅ کې ځایی ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ٤۵۳۵ کاری ورځې رامنځته شوېدی چې شا وخوا ۵ مېلیونه او ۱۷۵ زره افغانۍ لګښت پرې راځی او٤۷۰ کورنۍ ترې ګټه اخلی، د یادونې وړ ده، چې په کامې ولسوالۍ کې د کاسا-۱۰۰۰ پروژې د کلیو ملاتړ پروګرام تر سیورې لاندې په بېلابېلو سکتورونو کې ۳۰ پروژې منظور شوی، چې د جوړولو چارې یې په چټکۍ سره روانې او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د ویلو ده چې د کلیو ملاتړ پروګرام د افغانستان وجهی صندوق (ARTF) له لورې تمویلیږي.





# Progess in Pictures

پیشرفت کار به روایت تصاویر






















د کار پرمختګ په انځورونو کې